
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 431**

(15 حوت – 21 حوت 1402 هـ ش)

## د یوې غونډې په ترڅ کې د نوي چاپ شوي کتاب ( Revisiting The Durand Line: Historical and Legal Perspectives) حقوقي دلایل نقد او تحلیل شول




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

د یوې غونډې په ترڅ کې د نوي چاپ شوي کتاب ( Revisiting The Durand Line: Historical and Legal Perspectives) حقوقي دلایل نقد او تحلیل شول ....................................................... 3

- د لیکوال او کتاب معرفي ........................................................................ 4
- د ډیورنډ کرښې پر تایید راوړل شوي حقوقي دلایل ....................................................... 4
- پایله او وړاندیز.................................................................................... 9
- مأخذونه ............................................................................................... 10

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د یوې غونډې په ترڅ کې د نوي چاپ شوي کتاب ( Revisiting The Durand Line: Historical and Legal Perspectives) حقوقي دلایل نقد او تحلیل شول

**مقدمه**

د افغانستان د علومو اکاډمي علمي غړي څېړندوی عبدالصبور مبارز د یوې غونډې له لارې چې د سیمه ییزو او ستراتیژیکو مطالعاتو په مرکزي دفتر کې دایره شوه، په پاکستان کې د ډیورنډ کرښې په اړه نوی چاپ شوی کتاب تحلیل او نقد کړ: نوموړي په مقدمه کې وویل: دا موضوع مو ځکه انتخاب کړه چې په دې وروستیو کې د اسلامي امارت چاروا‌کو لکه ملایعقوب مجاهد، شیر محمد عباس ستانکزي او نورو د بېلابېلو رسنیو له لارې مطرح کړه. ملایعقوب وویل دا د ولس پورې اړه لري او ولس به پرېکړه کوي او ستانکزي خو وویل چې دا کرښه نه منو، له همدې امله په دې اړه بحثونه پیل شول او همدې وخت کې په پاکستان کې دغه کتاب هم چاپ شو، نو دې شرایطو ته په کتو مو دا موضوع انتخاب کړه تر څو د ډیورنډ دې کرښې په اړه شته ابهامات واضحه شي او د دواړو لوریو دریځونه او دلایل هم د خلکو مخ ته کېښودل شي.

د ۱۹۳۳ز. کال د دولتونو د حقوقو او دندو په اړه د مونټې ویډیو کنوانسیون له مخې د دولتونو د رسمیت پېژندنې لپاره څلور معیارونه مهم دي چې د هغې  له ډلې یو هم قلمرو یا خاوره ده.[1] قلمرو د پولو د ټاکلو له لارې مشخص کېږي او اکثره وخت د پولو د ټاکلو پرمهال د دولتونو ترمنځ شخړې رامنځته کېږي.

د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ پرمهال د تزاري روسیې سره پوله وټاکل شوه چې دا پوله بیا په ۱۹۱۷ز. کال کې د کمونستي انقلاب وروسته شوروي اتحاد ته پاتې شوه او بیا له سړې جګړې وروسته په ۱۹۹۱ز.کال کې دا پوله تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان ته پاتې شوه چې تر نن ورځې پورې دا پوله دواړه لوري د رسمي پولې په توګه مني. د همدغه امیر د واکمنۍ پرمهال د ایران سره د سیستان پر سره شخړه راپورته شوه چې بیا برتانوي جنرال فردریک ګولډسمت په منځګړتیوب حل شوه او دا سیمه د دواړو هېوادونو ترمنځ وویشل شوه او پوله وټاکل شوه.

د ډیورنډ فرضي کرښې اړوند تړون هم د امیر عبدالرحمن خان او برتانوي هند د بهرنیو چارو وزیر هینري مارټمر ډیورنډ ترمنځ په ۱۸۹۳ز. کال د نومبر پر ۱۲مه نېټه لاسلیک شوی. په ۱۹۴۷ز. کال کې د پاکستان په نوم د یو نوي دولت رامنځته کېدو سره سم افغانستان د ډیورنډ تړون لغوه اعلان کړ او د همدغې قضیې پر سر یې حتی په ملګرو ملتونو کې د پاکستان د غړیتوب پرخلاف  رایه هم ورکړه[2] او له همدغه نېټې څخه تراوسه پورې دا کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ یوه جنجالي کرښه ده. د دواړو لوریو حقوقپوهانو، سیاسیونو، د پوهنتون استادانو، څېړونکو او عامو خلکو ترمنځ په دې اړه ډېر بحثونه او لیکنې ترسره شوي دي او هر لوري د دغه کرښې د رد او تایید لپاره دلایل تراشلي دي. په دې وروستیو کې د ۲۰۲۴ز. کال د جنورۍ په میاشت کې پاکستانی لیکوال او څېړونکي دکتور لطف الرحمن له لوري د ( Revisiting The Durand Line: Historical and Legal Perspectives) تر سرلیک لاندې یو کتاب چاپ شوی دی او په دې کتاب

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کې يې د ډيورنډ فرضي کرښه يوه حقوقي او په رسميت پېژندل شوې کرښه او پوله ګڼلې ده. دغه کتاب پنځه فصلونه لري چې څلورم فصل يې د ډيورنډ فرضي کرښې د تاييد په اړه حقوقي دلايلو ته ځانګړی شوی دی او د دې کرښې د تاييد په اړه يې د بين المللي حقوقو په رڼا کې ځينې دلايل راوړي دي. په دې تحليل کې هڅه شوې ده چې د دې کتاب يوازې څلورم فصل کې راوړل شوي حقوقي دلايل وڅېړل شي او د دلايلو پوخوالي او ضعيفوالی يې څرګند شي. البته کېدلای شي چې ځينې نور تاريخپوهان د دې کتاب پاتې نور څلور فصلونه هم تحليل او نقد کړي، خو موږ د دې لنډ تحليل لپاره يوازې څلورم فصل ټاکلی دی.

## د ليکوال او کتاب معرفي

دا کتاب (Revisiting The Durand Line: Historical and Legal Perspectives) په انګليسي ژبه په ۲۲۹ مخونو او پنځو فصلونو کې ليکل شوی او په اسلام اباد کې د (Institute of Policy Studies) څېړنيز مرکز له لوري خپور شوی دی. په لومړي فصل کې د افغانستان پر تاريخ، په دويم فصل کې د خيبرپختونخواه او بلوچستان پر تاريخ، په درېيم فصل کې د ډيورنډ پر لاين د نخنبو اينبودلو، څلورم فصل کې د ډيورنډ فرضي کرښې د تاييد په موخه پر حقوقي دلايلو او په پنځم فصل کې د افغانستان او پاکستان پر پېچلو سياسي اړيکو بحث شوی دی. پر دې کتاب د ايټاليا، ناروې او د پاکستان ځينو پوهنتونونو استادانو تقريظونه هم ليکلي دي. کتاب سريزه، ضمايم او بېلابېلې نقشې هم لري.

د کتاب ليکوال دکتور لطف الرحمن دی چې د اسلام اباد ملي دفاعي پوهنتون څخه يې په نړيوالو اړيکو کې دکتورا کړې او ۳۰ کاله يې په راډيوي ژورناليزم کې عملي کار کړی دی. د ښو څېړنيزو کارونو له امله د پاکستان جمهور رئيس ممنون حسين له لوري ورته د سرو زرو مډال هم ورکړل شوی دی. د څېړنې کاري ساحه يې افغانستان، بلوچستان، خيبرپختونخواه، د ډيورنډ فرضي کرښې شخړه، تروريزم او د چترال، دير او سوات اړوند تاريخ دی.[3]

## د ډيورنډ کرښې پر تاييد راوړل شوي حقوقي دلايل

د کتاب په څلورم فصل کې ليکوال ځينې حقوقي دلايل راوړي او دا يې ښودلې چې ډيورنډ يوه رسمي کرښه او پوله ده چې دا دلايل په ترتيب ډول لومړی دلته تشريح کوو او بيا يې نقدوو:

۱- **Uti Possidetis:** لومړی دليل چې د ډيورنډ کرښې د تاييد لپاره راوړل شوی هغه د بين المللي حقوقو يو پرنسيپ دی چې (Uti Possidetis) نومېږي. دغه پرنسيپ وايي: د استعمار پرمهال چې کومې پولې ټاکل شوې دي هغه بايد د استعمار له پای ته رسېدو وروسته هم ومنل شي تر څو د شخړو د پېښېدو مخنيوی وشي. د ډيورنډ کرښه هم د برتانوي استعمار په وخت لاسليک شوې او د دغه پرنسيپ پر بنسټ بايد اوس هم ومنل شي. ليکوال استدلال کوي چې په دې پرنسيپ د عدالت نړيوالې محکمې هم استناد کړی او ځينې شخړې يې پر حل کړي دي، لکه په ۱۹۸۶ز. کال کې د Burkina Faso او مالي ترمنځ سرحدي شخړه او په ۲۰۰۷ز. کال کې د نکاراګوا او هاندوراس ترمنځ سرحدي شخړه د همدې پرنسيپ په استناد حل شوې دي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

دا دلیل له دریو اړخونو د انتقاد وړ دی:

**الف-** د بین المللي حقوقو دا پرنسیپ په دوه برخو ویشل شوی دی چې د کتاب لیکوال یې یوازې یو ډول راوړی او دویم ډول یې نه دی ذکر کړی او لامل یې دا دی چې د دې پرنسیپ دویم ډول د پاکستان په زیان دی. د دې پرنسیپ دغه دوه ډولونه په لاندې ډول دي:

- Uti Possidetis Facto or defacto: د دې معنی دا ده چې د استعمار په وخت کې چې کومې کرښې رابنکل شوي دي هغه یوازې اداري کرښې (Administrative lines) دي او د کوم نړیوال سرحد په توګه باید ونه منل شي بلکې د استعمار له پای ته رسېدو وروسته باید بېله شوې ځمکه اصلي مالک ته وسپارل شي.[4]

- Uti Possidetis Juris: دا دې پرنسیپ هغه دویم ډول دی چې لیکوال په خپل کتاب کې پرې استناد کړی دی. لکه څنګه چې دا پرنسیپ دوه برخې لري که پاکستان یې په دویم ډول استناد کوي، کېدای شي افغانستان یې په دویم ډول استناد وکړي.

**ب-** د پورته پرنسیپ په نقد کې دویم دلیل دا دی چې په نړیواله سطحه له استعمار وروسته د استعمار له خوا راکښل شویو کرښو په اړه دوه ډوله نظریات (School of Thoughts) موجود دي:

- Revisionists: دا ډله پوهان وایي چې د استعمار وروسته باید د شخړو د حل په موخه د استعمار په وخت کې راکښل شوې کرښو باندې له سره کتنه وشي.

- Anti Revisionists: چې دوی د استعمار په وخت کې راکښل شوې کرښې مني او د هغې په اړه بیا کتنه ردوي.[5] افغانستان کولای شي چې د لومړۍ ډله پوهانو په نظریه استناد وکړي او په دې کرښه د بیا کتنې غوښتنه وکړي.

**ج-** په دې کتاب کې پر یاد شوي پرنسیپ بل نقد دا دی چې دغه پرنسیپ (Uti Possidetis) د بین المللي حقوقو د یو بل مهم پرنسیپ (Self Determination) سره په ټکر کې دی. (Self Determination) پرنسیپ ولسونو ته د خپل سرنوشت د ټاکل حق ورکوي او په ځانګړې ډول له استعمار وروسته، نو که د استعمار په وخت کې راکښل شوې کرښو ومنو، نو دا به د (Self Determination) پرنسیپ سره په ټکر کې وي،[6] ځکه د استعمار پرخلاف د خلکو مبارزه او جهاد به بې معنی شي تر هغې چې بریالیو ولسونو ته د خپل سرنوشت حق ورنکړل شي، نو په خیبرپختونخواه کې پراته پښتانه برتانوي استعمار له افغانستان څخه جلا کړي او بیا د دواړو طرفونو پښتنو د استعمار خلاف جهاد کړی، نو د جهاد له بریالي کېدو وروسته باید هغوی ته د خپل سرنوشت د ټاکل حق ورکړل شي چې ایا د استعمار راکښل شوې کرښه مني او که بېرته اصلي حالت ته ستنېږي.

**۲- لاسلیک شوي تړونونه په یوازې ځان لمنځه نشي تللی.** د دې کتاب لیکوال دویم حقوقي دلیل دا راوړی چې د بین المللي حقوقو او د ۱۹۶۹ز. کال د معاهداتو د حقوقو په اړه د ویانا کنوانسیون پر بنسټ هیڅ یو تړون په یوازې ځان ځوک لمنځه نشي وړلی. لیکوال وایي چې یو تړون هغه مهال لمنځه ځي چې په


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

خپله د ټرون په داخل کې یې شرایط یا معلومه نېټه تاکل شوي او یا هم د دواړو لوریو په رضایت لمنځه لاړ شي.

د ډیورنډ کرښې په اړه د لیکوال دا دلیل هم د نقد وړ دی، ځکه د همده د ذکر شوي د ۱۹٦۹ز. کال د معاهداتو د حقوقو په اړه د ویانا کنوانسیون له بېلابېلو موادو داسې معلومېږي چې ټرون په یوازې ځان هم لمنځه تللی شي. د دې کنوانسیون په ۴۹مه ماده کې راځي: که په یو ټرون کې دوکه ثابته شي، نو ټرون خپله لمنځه ځي. همدارنګه په ۵۰مه ماده کې راځي: که په یو ټرون کې ثابته شي چې د یو دولت استازی چې ټرون یې لاسلیکوو رشوت اخیستی بیا هم ټرون لمنځه ځي. په ۵۱مه ماده کې راځي: که ثابته شي چې د یو ټرون لاسلیکوونکي استازي باندې فشار راوړل شوی او په زوره پرې ټرون لاسلیک شوی بیا هم ټرون لمنځه ځي او په ۵۲مه ماده کې راځي: که ثابته شي چې پر یو دولت فشار راوړل شوی لکه ورته ویل شوي وي چې که دا ټرون لاسلیک نه کړې، نو اقتصادي بندیزونه به ورباندې ولګول شي، نو بیا هم ټرون لمنځه ځي.[7]

د پورتنیو موادو پر بنسټ داسې ګڼ اسناد موجود دي چې دا ترې جوتیږي چې د ډیورنډ ټرون پر افغانستان تحمیل شوی او پر امیر عبدالرحمن خان فشار راوړل شوی او د فشار پر بنسټ پرې دا ټرون لاسلیک شوی، د بېلګې په ډول:

Louis Dupree په خپل کتاب (Afghanistan) کې لیکي: پر امیر څو ځلې فشار راوړل شو تر څو دا هوکړه (ډیورنډ) لاسلیک کړي.[8]

Julian Schofield په خپل کتاب (Diversionary Wars: Pashtun Unrest and the Source of Pakistan- Afghan Confrontation) کې لیکي: د ډیورنډ کرښې ټرون پر افغانستان تحمیل شوی دی.[9]

Daveed Gartenstein Ross and Tara Vassefi په خپل کتاب (The Forgot History of Afghanistan-Pakistan Relations) کې لیکي: برتانیې کابل په دې تهدید کړ چې که د ډیورنډ هوکړه لاسلیک نه کړي، نو اقتصادي بندیزونه به ورباندې ولګوي.[10]

همدارنګه د علومو اکاډمۍ غړی او تاریخ لیکونکی څېړنپوه محمد شریف څدراڼ د ارنولد فلیچر له قوله وايي: امیر عبدالرحمن خان په لومړي ځل د برتانوي هند نایب الحکومة هغه وړاندیز رد کړ چې په هغې کې د ډیورنډ کابل ته د ټرون لپاره رالېږل شوی و، چې بیا په دې کار سره نایب الحکومة سخت په غصه شو او امیر یې تهدید کړ چې که دا کار ونکړي، نو لس زره عسکر به کابل ته راولېږي، چې بیا امیر مجبور شو او د ډیورنډ راتګ یې کابل ته ومانه او هوکړه یې ورسره لاسلیک کړه. افغان څېړونکي د دې کرښې په اړه همدا استدلال کوي چې د ډیورنډ د لاسلیک پرمهال پر امیر فشار راوړل شوی او ۱۹٦۹ز. کال د معاهداتو د حقوقو په اړه د ویانا کنوانسیون د ۵۱ او ۵۲مې مادې پر بنسټ دا ټرون لغوه دی.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**۳- Pacta Sunt Servanda:** دا بین المللي حقوقو بل پر نسیپ دی چې لیکوال د استدلال په موخه راوړی دی، د دې پرنسیپ لنډ مفهوم دا دی چې (Agreements must be kept) په تړون باندې باید وفا وشي. دا پرنسیپ ۱۹٦۹ز. کال د معاهداتو د حقوقو په اړه د ویانا کنوانسیون په ۲٦مه ماده کې هم راغلی دی. لیکوال استدلال کوي چې د دې پرنسیپ پر بنسټ باید افغانستان په خپله هوکړه وفا وکړي او د ډیورنډ کرښه د رسمي پولې په توګه ومني.

په دې پرنسیپ استدلال هم د نقد وړ دی، ځکه افغان لوري استدلال کوي چې افغانستان اصلاً دا تړون نه مني او پر عهد د وفا خبره هغه مهال مطرح کېږي کله چې دواړه لوري د یو تړون پر وجود قانع وي او یو لوی خپل وجایب نه تطبیقوي بیا هغه مهال کېدای شي چې په دې پرنسیپ استدلال وشي، افغانستان په لاندې دلایل اصلاً د ډیورنډ هوکړې ته په تړون قایل نه دی:

**الف-** دا تړون اصلاً د پولې کوم تړون نه بلکې د برتانیې او د امیر د نفوذ د ساحې د معلومېدو په موخه یوه هوکړه وه، ځکه هغه مهال برتانیه په لاهور، دیر، سوات، چترال او چمن کې د افغانستان له لوري د بریدونو څخه په تنګه شوې وه او د همدې لپاره چې برتانیې امیر ته د هغه د نفوذ ساحه معلومه کړې وي او خپله ځان له دې بریدونو مطمین کړي، پر همدې دلیل د دې هوکړه نوم د دې (Durand Line Agreement) دی، که دا هوکړه د پولې د ټاکلو په اړه وی، نو د دې هوکړې نوم باید (Durand Border Agreement) وی او کله چې برتانیه لمنځه لاړه، نو د نفوذ د ساحې خبره هم ورسره ختمه شوه.

**ب-** بل دا چې که د ډیورنډ تړون واقعاً د پولو د رسمیت پېژندنې یو نهایي تړون وی، نو برتانویانو په ۱۹۰۵ز. کال کې د امیر حبیب الله خان سره او په ۱۹۱۹ز. او ۱۹۲۱ز. کالونو کې د امیر امان الله خان سره د تړون پرمهال د ډیورنډ او د پولې موضوع بیاځلي ولې د تړون په متن کې په دواړو امیرانو ومنله، له دې معلومېږي چې برتانویان خپله د ۱۸۹۳ز.کال د ډیورنډ پر تړون ډاډه نه وو او یا دا چې دا یې یوازې د امیر عبدالرحمن خان سره یوه هوکړه وه چې د نورو امیرانو لپاره د تطبیق وړ نه وه او ځکه یې پر نورو امیرانو هم دا موضوع تایید کړه.

**ج-** بله مهمه موضوع دا چې که د پولې په اړه د ۱۹۲۱ز. کال د امیر امان الله خان او برتانوي هند تړون وروستی تړون ومنو، نو د دې تړون پر بنسټ د پولې په اړه پخواني نور تړونونه لغوه دي چې ډیورنډ هم په کې شامل دی او که پاکستان په ۱۹۲۱ز. کال تړون استناد کوي، نو د دې تړون په ۱۴مه ماده کې راغي: دا تړون به د دریو کالو لپاره نافذ وي او له دریو کالو وروسته چې هر لوری غواړي دا لغوه کړي، نو ۱۲ میاشتې مخکې به په مقابل لوري  ته خبر ورکوي.[11] او د همدغې مادې پر بنسټ د افغانستان لویې جرګې چې په ۱۹۴۹ز. کال کې دایره شوې وه، دا تړون یې لغوه کړ چې بیا په ۱۹۵۰ز. کال کې دا تړون په قانوني ډول له اعتباره وغورځېده او د پاکستان سره د پولې ټولو تړونونه لمنځه لاړل.

**د-** افغانستان په رسمي ډول له ۱۸۳۸ز. کال څخه تر ۱۹۱۹ز. کال پورې د برتانیا تحت الحمایه و، یعنې بهرنی سیاست یې د انگریزان په لاس کې و، په ۱۸۳۸ز. کال کې د لاهور مثلث اتلس ماده ییز تړون چې د انگرېزانو، شاه شجاع او د مهاراجا رنجیت سېنگ ترمنځ لاسلیک شو، د نورو ژمنو ترڅنگ له شاه شجاع څخه تعهد اخیستل شوی و، چې د انگرېزانو له خوښې او مشورې پرته به له هېڅ پاچا یا بهرني دولت سره اړیکې نه ټینگوي. د لاهور تړون په اتلسمه ماده کې راغلي وو:« شاه شجاع او د سدوزیانو ټوله کورنۍ به د ختیځ هند کمپنۍ [برېټانوي هند حکومت] او مهاراجا رنجیت سنگ له اجازې پرته له نورو پاچاهانو سره هېڅ ډول معاملې نه کوي.

همدارنگه د ۱۸۵۵ز. کال د مارچ پر دېرشمه د جمرود په لومړي تړون کې چې د افغانستان له لوري د امیر د ولیعهد غلام حیدر خان او د انگرېزانو له لوري د پنجاب د گورنر سرجان لارنس ترمنځ لاسلیک شو، انگرېزانو بیا هم له افغانستانه یو اړخیز امتیازات واخیستل او د افغانستان لاسونه یې وتړل. په ۱۸۵۷ز. کال د جمرود د دویم تړون په څلورمه ماده کې په صراحت ویل شوي وو چې د افغانستان امیر په کورنیو چارو کې خپلواک دی، خو بهرنۍ چارې باید د انگرېزانو په خوښه سمبال کړي.

د امبالې او شملې (۱۸۷۳) په مذاکراتو د انگرېزانو اساسي غوښتنه بیا هم په بهرني سیاست کې له افغان حکومت څخه د خپلواکی اخیستل و. د امیر شېرعلي خان دا هڅه چې ان د خپل کوچني زوی و لیعهدۍ په ټاکنه کې یې هم د انگرېزانو سلا اخیسته، د افغانستان وابستگي ځرگندوي. له امیر شېرعلي خان وروسته د امیر یعقوب خان له لوري د گندمگ تړون، د امیر عبدالرحمن خان له لوري د ډیورنډ تړون او د امیر حبیب الله خان له لوري د امیر عبدالرحمن له لوري په شویو ژمنو بیا هوکړه، د انگرېزانو د همدغه نفوذ له امله وو چې د افغانستان سیاسي خپلواکي یې شدیداً متاثره کړې وه او افغانستان عملاً د برېټانیا د یوه تحت الحمایه په توگه خپل بهرنی سیاست د انگلیسانو په خوښه جوړاوه.

دا چې په ۱۸۹۳ز. کال کې د افغانستان بهرنی سیاست د انگریزانو په لاس کې و او نورو هېوادونو سره تړونونه د بهرني سیاست برخه ده، نو افغان څېړونکي استدلال کوي چې د ډیورنډ تړون هغه مهال افغانستان لاسلیک کړی چې بهرنی سیاست یې د انگریزانو په لاس کې و چې له همدې امله دغه تړون خپل حقوقي ماهیت او حیثیت له لاسه ورکوي.[12]

۴- Vienna Convention on Succession of States in respect of Treaties 1978: لیکوال په خپل کتاب کې بل دلیل د تړون اړوند د ځای ناستي دولت په اړه د ویانا د ۱۹۷۸ز. کال کنوانسیون پر ۳۴مه ماده استدلال کوي او وايي: پاکستان د برتانوي هند ځای ناستی دولت دی او د پورتني کنوانسیون پر بنسټ د پخواني دولت ټول تړونونه، حقوق او وجایب د هغه ځای ناستي دولت ته راجع کېږي، نو پر همدې بنسټ د ډیورنډ تړون چې برتانیا کړی دی هغه پاکستان ته پاتې دی او پاکستان د هغه د حقوقو او جایبو په اړه مسؤل دی.


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په دوه دلایلو دا حقوقي دلیل هم د انتقاد وړ دی:

الف- د دې کنوانسیون د ۴۹مې مادې پر بنسټ دا تړون هغه مهال د انفاذ وړ دی چې لږ تر لږه ۱۵ هېوادونه یې لاسلیک او تصویب کړي. همدارنګه دا کنوانسیون یوازې په هغو دولتونو د تطبیق وړ دی چې دا کنوانسیون یې لاسلیک او تصویب کړی دی.

د دې مادې په اړه دوه خبرې د یادولو وړ دي،

لومړی: دا کنوانسیون دومره کمزوری دی چې په ۱۹۷۸ز. کال کې رامنځته شوی، خو د ۱۵ هېوادونو د پوره کېدو لپاره یې ۱۸ کاله یعنې تر ۱۹۹٦ز. کال پورې انتظار وکړ او وروسته له ۱۸ کالو انتظار ۱۵ هېوادونه پېداشول چې دا کنوانسیون لاسلیک او تصویب کړي. تر ۲۰۱۹ز. کال پورې یوازې ۲۳ هېوادونو دا تصویب کړی دی، نو که دا کنوانسیون دومره مهم وی، نو د ۴۱ کالو په تېرېدو به یوازې ۲۳ هېوادونو نه تصویبوو، بلکې د نړۍ اکثره هېوادونو به دا منلی وی.

دویم: د دې کنوانسیون د ۴۹مې مادې پر بنسټ دا کنوانسیون یوازې په هغو هېوادونو تطبیقېږي چې دا کنوانسیون یې تصویب کړی وي، خو تراوسه نه افغانستان او نه هم پاکستان دا کنوانسیون تصویب کړی دی، نو لیکوال بیا ولې په داسې کنوانسیون استناد کوي چې د دواړو هېوادونو لپاره د منلو وړ نه دی؟

ب- پر دې دلیل بل انتقاد دا کېدای شي چې د ملګرو ملتونو سکرتریت په ۱۹٦۲ز. کال کې یو سند چې شمېره یې (A/CN.4/149 and Add.1) ده او سرلیک یې (Succession of States and Governments) دی، خپور کړ او د دې سند په ۱۰۱ مخ کې راځي:

( From the viewpoint of international law, the situation is one in which a part of an existing State breaks off and becomes a new State. On this analysis, there is no change in the international status of India; it continues as a State with all the treaty rights and obligations, and consequently, with all the rights and obligations of membership in the United Nations. The territory which breaks off, Pakistan, will be a new State; it will not have the treaty rights and obligations of the old State, and it will not, of course, have membership in the United Nations.)[13]

مفهوم دا دی چې د برتانیا له وتلو وروسته د هند نړیوال حقوقي حیثیت او په ملګرو ملتونو کې یې غړیتوب به یې په خپل ځای پاتې وي او د تړونونو اړوند حقوق او وجایب هم دوی ته رجع کېږي، همدارنګه پاکستان به یو نوی دولت وي چې د تېر دولت (برتانوي هند) د تړونونو حقوق او وجایب ورته نه راجع کېږي او ملګرو ملتونو غړیتوب به هم نه لري. د ملګرو ملتونو د دې سند پر بنسټ هم کېدای شي افغان څېړونکي استدلال وکړي او وایي چې: پاکستان د برتانیې ځای ناستی نه دی.

## پایله او وړاندیز

ډیورنډ تړون د پاکستان او افغانستان ترمنځ یوه شخړه رامنځته کړې ده او په دې اړه د دواړو لوریو څېړونکي او سیاسیون د خپل هېواد په ګټه استدلال کوي، پاکستان د ډیورنډ تړون پر تایید او دا پوله د رسمي پولې په توګه د منلو لپاره دلایل راوړي او افغاني څېړونکي يې د نه منلو لپاره دلایل راوړي.

دا وروستی چاپ شوی کتاب چې دوکتور لطف الرحمن لیکلی په دې کې راوړل شوي حقوقي دلایل د دې غونډې له لارې نقد شول او په پایله کې معلومه شوه چې راوړل شوي دلایل کمزوري دي او د استدلال قوت په کې نشته او د دې دلایلو پر بنسټ ډیورنډ هیڅکله هم د رسمي پولې په توګه منل کېدای نشي.

دواړو لوریو ته وړاندیز دی چې دا مسئله دې په سولیز ډول حل کړي، تر څو دواړه ګاونډي هېوادونه د سولې په فضاء کې له یو او بل سره ژوند وکړي.

**مأخذونه**

[1] Montevideo Convention on the Rights and Duties of States, Dec 26, 1933.

[2] Hameed Hakimi and Zalmai Nishat. Pakistan-Afghanistan Relations: Emergence of New Nation States and the Search for Identity, Friedrich-Ebert-Stiftung (FES), September 2021, P. 7. Access link: https://library.fes.de/pdf-files/bueros/pakistan/18346.pdf

[3] Lutfurahman. Revisiting The Durand Line: Historical and Legal Perspectives, Institute of Policy Studies, January 2024.

[4] Abraham Bell and Eugene Kontorovich. Palestine, UTI Possidetis Juris, and the Borders of Isael, Arizona Law Review, Vol 58, March 8, 2016, P. 641. Access link:https://papers.ssrn.com/sol3/papers.cfm?abstract_id=2745094#:~:text=The%20doctrine%20provides%20that%20emerging%20states%20presumptively%20inherit,of%20Palestine%20as%20they%20existed%20in%20May%2C%201948.

[5] Lutfurahman. Revisiting The Durand Line: Historical and Legal Perspectives, Op. Cit., P.

[6] Ibid, P. 635.

[7] Vienna Convention on the Law of Treaties 1969, United Nations- Office of Legal Affairs, 2005, Access link: https://legal.un.org/ilc/texts/instruments/english/conventions/1_1_1969.pdf

[8] Louis Dupree. Afghanistan, New Jersey: Princeton University Press, 1980, P. 426.

[9] Julian Schofield. Diversionary Wars: Pashtun Unrest and the Source of Pakistan- Afghan Confrontation, Canadian Foreign Policy Journal 17, no. 1, March 2011, P. 39

[10] Daveed Gartenstein Ross and Tara Vassefi. The Forgot History of Afghanistan -Pakistan Relations, Yale Journal of International Affairs 7, no. 1, March 2012, P. 40

[11] Treaty between British and Afghan Government, November 22 1921, London: His Majesty's Stationery office, Article 14.

[12] نظیم سمون. افغانستان د برېتانیا مستعمره او که تحت الحمایه و؟ د افغانستان د سیاسي خپلواکۍ یوه ارزونه، دعوت ویبپاڼه، ۲۰۱۸ز. کال، د لاسرسي وړ لېنک: https://dawatmedia24.com/?p=97872

[13] United Nations Secretariat. SUCCESSION OF STATES AND GOVERNMENTS, International Law Commission, 3 DEC, 1962, Access link: https://www.un.org/law/ilc/index.htm)

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

تماس: +۹۳۷۸۰۶۱۸۰۰۰ : +93780618000



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)